مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۹/۰۸/۱۹

# د یوي پیړۍ ستري بریا ویاړونه

## لومړۍ برخه

په ( ۱۶ / ۸ / ۲۰۱۹ ) نیټه د ډنمارک هیواد په Aarhus ښار کی د میشتو افغانانو په زیار د استقلال د سلمي کالیزي د لمانځني په ویاړ یوه پراخه غونډه را بلل شوی وه چی هلته یي د اساسی بیانیي ویاړ ماته را بخښلی وو . دا هم د نوموړي بیانیي لومړۍ برخه:

### د ننني پرتمیني غونډي درنو ګډونوالو ، آغلو او ښاغلو!

د ویاړه ډکه خبره بولم چي د غربت د ټولو کمزوریو او محرومیتونو سره سره ، ډنمارک میشتي افغانان پدې توانیدلي چي دهیواد د استقلال سلمه کالیزه په ویاړمنه توګه ولمانځي . د غونډي د جوړولو ستړیاوي که تر لویه بریده د افغانستان د ملی تحریک پرغاړه وي ، خو هر افغان باید پدې اړه پر خپله ونده او ګډون باندي و ویاړي .

زه غواړم پدغه مهمه ورځ د امان الله خان یوې تاریخي بیانیی ته ستاسی پام را واړوم . دده دغي بیانیي څخه موږ دقیق حدس وهلای شو چي ځوان او نوی خپلواکی ته رسیدلی پر وطن مین واکمن د خپل هیواد راتلونکي په څه کي لیدل :

داستقلال تر لاس ته راوړلو وروسته ، شاه امان الله د کابل په جامع جومات کی یوه تاریخی بیانیه ورکړه چي متن یي وتلی مورخ عبدالرحمن زمانی د برتانیوی هند د محرمو اسنادو له ارشیف نه تر لاسه کړی دی. غواړم ددغي ویاړلی ورځي د سلمي کلیزي په لمانځونده کي د نوموړی بیانیی برجسته ټکی د ګډونوالو سره شریک کړم . دلته څو خبري د یادولو وړ بولم : د ځوان شاه په بیانیه کي یو شمیر ترمینونه یا اصطلاح ګاني لکه ملت ، حکومت ، دولت او نور دهغه مهال د پوهاویو له مخي کارول شویدي . شاه امان الله کله چي ددغي بیانیي په ترڅ کي د ازادی معنی تشریح کوی ، دی د ازادی یو مهم شرط دا بولی چي یو ازاد هیواد باید د نړی د لویو قدرتونو له ډلي نه وګڼل شي . البته دده موخه دا وه چي واړه اوکمزوره هیوادونو ته لکه څنګه چي ازادي تر لاسه کول سخته ده ، همدرانګه یي ساتل ورته اسانه کار ندی . ځکه نو ده پټیلی وه چي خپل ګران هیواد افغانستان ته باید هر اړخیز پرمختګ ورکړي ، څو و کولای شي ځان د نړی د لویو قدرتونو سره سیال کړي . دی پوهیدی چي هیواد یي یوازی د اقتصادی اونظامی توان په درلودلو سره خپل استقلال ساتلای شی او د نورو اړمنو اولسونو سره مرسته کولای شي . ځکه یي نو د معاصرو غوښتنو سره سم د پیاوړتیا او پرمختګ پلانونه تر لاس لاندي و نیول .
راشئ چي دا هر څه پخپله دده له خولي نه واورو .

په نوموړی مسجد کي چي خورا ډیر خلک حاضر وه ، ده خپله تاریخي وینا په ډیر ویاړ او برم سره د وطنپالني تر احساساتو لاندي داسی پیل کړه :

«ای زما هودمن ملته !
ستاسو به ښه په یادوی چي ما دخپل سلطنت په پیل کی، شاهی تاج پدی شرط پر سر کښیښود چي د افغانستان بشپړه داخلی او خارجی آزادی به تر لاسه کوم ».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هغه وخت لوستی قشر دومره پراخ نه وو . پدې خاطر ده غوښته چې اولس یې دده دغه هوډ په مانا او منځپانګه باندې و پوهیږي ، نو یې خپلو خبرو ته داسی دوام ور کړ :

«اوس غواړم تاسو ته څرګنده کړم چی د یوه هیواد خارجی او داخلی آزادی او همدارنګه د یوه خارجی هیواد تراسارت لاندی والی څه معنی او مفهوم لری ؟ یوه هیواد ته هغه وخت په خارجی او داخلی چاروکی آزاد ویل کیری چی و کولای سی د نړی له لویو قدرتونو څخه وشمیرل سی، دا حق ولری د هر حکومت سره په سیاسی او سوداګریزو چارو کې هوکړی لاسلیک ، دخپلو هم مذهبو او هم نژادو وړونو سره وحدت او د اړتیا پر مهال مرستی ور سره وکړی او په نړی کی د بل هیڅ هیواد تر نفوذ لاندی نه وی. پدی توګه د خپل هیواد په ټولو چاروکی د آزاد لاس درلودل او دخپل هیواد په ګټه د هری چاری د اجرا کولو توان ته استقلال ویلای شو » . دا وه دده له نظره د ازادی او استقلال مانا چی د خلکو د فهم سره یې سم توضیح کړه . وروسته یې د اسارت د تشریح کولو په موخه خپلې خبرې داسی و غځولې:

«د بل لوری نه تر اسارت لاندی والی وهغه څه ته وایی چی د نړی د قدرتونو څخه ونه شمیرل شی، دنورو هیوادونو سره د سوداګریزو او سیاسی هوکړو اجازه ونلری او ونه شی کړای د خپلو هم مذهبو او هم نژادو وړونو سره مرستې وکړی او همدارنګه دا حق ونلری چی د هغه هیواد داجازی نه پرته ، چی تر نفوذ لاندی یی دی ، دکوم بل هیواد سره اړیکې او سرو کار ولری ». پدې وخت کې یې د برتانیا سفیر ته د هغه هیواد د ناوړه نیت او کړنو پخاطر پدې ډول پیغور ورکړ:

«... که څه هم نفوذ لرونکی هیواد ښایی په ظاهره او سربیرن ډول ځان دوست وښئی، مګر په واقعیت کی به یی دښمن وی او جړی به یی باسی » . ددغه پیغور سره سم یې دا هم وښودل چې استقلال یې د نورو هیوادونو لخوا په ښه توګه بدرګه شویدې او زیاته یې کړه :

« زه نن د خپل خدای نه شکر باسم چی خپل هدف ته یی ورسولم .همدا اوس زموږ د هیواد استقلال د ترکیی ، المان ، برتانیی، روسیی ، اطریش، او بخارا د هیوادونو له خوا په رسمیت پیژندل سوی دی. زه نن دغه لاس ته راوړنی تاسو ته اعلانوم او ددغو ټولو بریالیتوبونو مبارکی درته وایم » ( اوږدی چکچکی او ستاینیز شعارونه ) .

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ